
د افغانستان د قلم ټولنه
۷۰
چرگه او کوتره
د ماشومانو لپاره کیسې
علم گل سحر

# چرګه او کوتره

د ماشومانو لپاره کیسې

علم ګل سحر

# سپی او موټر

لیدلي به مو وي، چې کله موټر پر سړک تېرېږي، وزه ترې منډې وهي او ځان ترې ژغوري ، خر بیا د وزې برعکس چې موټر هر څومره هارنونه ورته وکړي له لارې نه لیري کېږي، خو سپی چې پر لارې یو موټر ووینې چې تېرېږي، منډې ورپسې وهي او تر ډېره ورپسې غاپي، پوهېږئ چې دا ولې؟ ددې خبرې د پوهېدو لپاره دغه کیسه ولولئ:

په پخوا زمانو کې یوه ورځ سپی، وزه او خر پر لاره سره ملګري شول، تله تله تله، ډېر مزل یې وکړ، ستړي شول او دلارې پر سر یې دمه جوړه کړه. په دې وخت کې له لیري یو موټر را ښکاره شو چې ددوی پر خوا را روان و ، د موټر په لیدو درې واړه ډېر خوشحاله شول.

سپی، وزه او خر په موټر کې سپاره شول، موټر چې یو څه لاره ووهله ، وزه بې له دې چې د موټر کرایه ورکړي، له موټر څخه یې ټوپ کړه او پر خپله مخه ولاړه. موټر چلوونکي ور پسې نارې کړې چې کرایه راکړه، خو وزه وتښتېده. موټر چې څه نوره لاره هم ووهله، خر هم بې له دې چې کرایه ورکړي، له موټر څخه پلی شو او بې غمه د کلي پر لوري روان شو.

وروستی کلی د سپي و . سپی هم له موټر څخه کوز شو ، سپي خپله کرایه ورکړه او روان شو ، خو موټر چلوونکي ورپسې نارې کړې او ورته ویې ویل: څنګه داسې بې غمه روان شوې، کرایه راکړه. سپي په حیرانتیا پوښتل: ما خو خپله کرایه درکړه ،دوه ځله یې غواړې که څنګه؟

موټرچلوونکي په غوصه ورته وویل: وزه دې ونه لیده چې بې کرایې ولاړه، د هغې کرایه هم باید ته راکړې. سپي وویل: نو زما یې په څه، د وزې کرایه زه ولې درکړم؟ موټر چلوونکي وویل: وزه ستا دلارې ملګرې وه، بې کرایې وتښتېده، کرایه به یې خامخا ته راکوې. موټر چلوونکي کرایه غوښته او سپي نه ورکوله ، ددې خبرې پر سر ددواړو ترمنځ یو لوی جنجال جوړ شو .

اخر دواړه یوه قاضي ته ورغلل او ټوله کیسه یې ورته وکړه، قاضي وویل:

ځرنګه چې وزه له سپي سره یوځای موټر ته پورته شوې او د سپي د لارې ملګرې وه نو سپي باید دوزې کرایه هم ورکړي.
سپی هم مجبور شو په نه زړه یې د وزې کرایه ورکړه. اوس چې موټر پر لاره تېرېږي، وزه ترې منډې وهي او ځان خلاصوي، وایي هسې نه چې پخوانۍ پاتې کرایه راځخه واخلي.
که مو پام کړی وي خر تل پر سرک ولاړ وي، که موټر هر څومره هارنونه کوي خر له لارې نه ایسته کېږي. خر له ځانه سره وایي چې ما خو خپله کرایه ورکړې ده، هر ځای چې مې زړه وي درېږم، د وزې غوندې په غلا ژوند نه تېروم او سپی چې پر لاره تېرېدونکی موټر ووینې له ډېر لرې ځایه ورته را منډه کړي او تر ډېر لیرې واټن پورې په موټر پسې ځغلي او ورته غاپي. سپی له موټر څخه هغه پیسې غواړي چې له ده څخه یې د وزې د کرایې په نامه اخیستي دي.
۱۲ / ۴/ ۱۳۷۹
زرمت، پکتیا

# چرګه او کوتره

دماشومانو لپاره کیسه

---

په یوه ځنګله کې چرګه او کوتره سره یوځای اوسیدل. په دغه لوی او ښکلي ځنګله کې نورو حیواناتو او اولوتونکو هم ژوند کاوه، د هر چا بیل بیل کورونه وو.

په پخوا زمانو کې کوترې هم د چرګو غونډې الوتلی نه شوای، کوتره او چرګه د ځنګه په یوه ګوښه کې په یوه کور کې اوسېدل، دانې او نور خوراکونه به یې په ګډه پیدا کول او بیا به یې یو ځای سره خوړل.

کوترې او چرګې به چې څه دانې مانې را ټولې کړې، کارګه به له پاسه راغی د دوی دانې به یې ترې وخوړلې، چې کوتره او چرګه به را ورسېدل کار ګه به والوت او د یوې جګې ونې په سر کې به کېناست.

کوترې او چرګې به وروسته له ډې خپلې دانې او نور خوراکونه ښخول، خو کارګه به پورته په ونه کې ناست و، دوی به یې لیدل. چې کوتره او چرګه به یوې خواته شول ژر به ورته را ښکته شو دانې او نور خوراکونه به یې را وایستل او بیرته به ژر والوت. کوتره او چرګه د کارګه له دغه کاره ډیرې په تنګ شوې.

یوه ورځ کوترې چرګې ته وویل :

– کارګه چې دومره وس لري چې هره ورځ زما اوستا خواړه را څخه وړي پوهیږې قوت یې په څه کې دی؟

چرګې وویل: نه، نه پوهیږم ته څه فکر کوې.

کوترې ورته وویل: دا ځکه چې کارګه الوتلی شي، وګوره د ونو سرونو او لیرې غرونو ته تللی شي ، زموږ تیار شوي خواړه وخوري او راځخه والوزي.
چرګې پوښتنه وکړه: نو موږ څه کولای شو؟
کوترې سترګې پټې کړې، له لږ فکر وروسته یې وویل:
ولې نه موږ هم کولای شو چې د کارګه غوندې شو.
چرګه حیرانه شوه ویې پوښتل:
- هغه څنګه؟
کوترې وویل:
–راځه چې زه او ته هم الوتنه زده کړو.
چرګې خپل وزر وغوړول ویې ویل:
دا خو ډېر سخت کار دی، څنګه به یې زده کوو.
کوترې وویل: هر څه په کوښښ او زیار سره کیدای شي، چې لږ کوښښ وکړو زه او ته هم د کارګه غوندې الوتنه زده کولای شو.
چرګه زړه نازړه وه خو کوترې قناعت ورکړ، په سبا دواړه د چتکي یا ډیک کورته ورغلې، کوترې چتکي ته وویل:
چتکې تیزه کیه
ښکلې ګلالیه
موږ ته الوتل زده که
اسمان ته برختل زده که
چتکی چې په یوه نرۍ لښته ناست و، والوت او د کوترې خواته په یوه ډبره کیناست ویې ویل:
ای ښکلې کوترې
عبث کوې خبرې

**دا شوقونه پریږده**

**ګرځه رانه لیرې**

**کوتره او چرګه دواړه مایوسه ترې روانې شوې، لاړې لاړې لاړې د ټپوس کورته ورسیدې، کوترې ټپوس ته مخ ورواړاوه، ورته وېې ویل:**

**ای ټپوسه وروره**

**راغلو ستا تر کوره**

**موږ ته الوتل زده که**

**اسمان ته بر ختل زده که**

**ټپوس چې د یوه لوړ کمر پر سر ناست و، په غرور یې دواړو ته وویل:**

**ای ښکلې کوترې**

**ای چرګې ببرې**

**تاسې الوتی نه شئ**

**دا سخت کار کوی نه شئ**

**کوترې ورته وویل:**

**موږ هره ورځ کار کوو**

**شپه او ورځ به زیار کوو**

**وایو سبقونه موږ**

**زده کړو پروازونه موږ**

**خو ټپوس د دوی غوښتنه نه منله، دا وار یې په غوسه وویل:**

**ځئ دا ستاسې کار نه دی**

**ټپوس دې ته تیار نه دی**

**چې تا ته الوتل زده کي**

**اسمان ته برختل زده کي**

کوتره او چرګه خواشیني او ژړغوني رواني شوې، چرګه سترې شوه، ویې ویل چې نور زه له دغه کاره تیره یم خو کوترې ورته وویل: راځه مایوسه کیږه مه، اخر به یو څوک پیدا شي، چې موږ ته الوتل رازده کړي.

کوتره او چرګه تلې تلې تلې مازدیګر نا وخته د ملا چرګک کورته ورسیدې کوترې ملا چرګک ته وویل:

سلام ملا چرګکه

په منډه کې چابکه

موږ ته الوتل زده که

اسمان بر ته ختل زده که

ملا چرګک په خپله منښوکه ځمکه وخرله ویې ویل:

ماته ښه خواړه راکړئ

هره ورځ خواړه راکړئ

زه به الوتل درزده کړم

اسمان ته برختل درزده کړم

کوتره خوشحاله شوه ویې ویل:

موږ تا ته دانې راوړو

ښې خوږې پستې راوړو

موږ ته الوتل زده که

اسمان ته بر ختل زده که

کوتره به هر سهار وختي له خوبه پاځیدله او د ملا چرګک کورته به د درس او تمرین لپاره تلله خو چرګه دوه ورځې ولاړه، بیا نه ولاړه کوترې ډیر ورته وویل خو چرګې نه منله، ویل یې:

نه لولم درسونه زه

لرم لوی وزرونه زه
لږ چې نوره غټه شم
کړم به پروازونه زه

کوترې به ټوله ورځ کار کاوه، نیمايي خواړه به يې پخپله خوړل او نیمايي نور به يې ملا چرګک ته ور وړل. ملا چرګک به په بدل کې هغې ته د الوتلو درسونه ور ښودل. د دې لپاره چې هره ورځ وختي خپل درس او تمرين ته ځان ورسوي خپل کور يې بدل کړ او د ملا چرګک د کور خواته يې نوی کور جوړ کړ.

شپې ورځې تيرې شوې کوترې الوتل زده کړل، نور به کوتره په ځمکه نه ګرځیدله د نورو الوتونکو مرغانو غوندې به د ونو په سرونو کې ناسته وه، اوس کارګه نه شوای کولای د دې تيار شوي خواړه وخوري، کوتره به هر سهار او مازدیګر د چکر او هوا خوري لپاره د لیرې غرونو سرونو ته تلله.

کوتره يوه ورځ د يوې لوړې ونې په څانګه ناسته وه چې لاندې يې وکتل، ويې ليدل چې د دې پخوانۍ ملګرې چرګه خواړه خوري، په دې وخت کارګه له پاسه راغی د چرګې د خولې خواړه يې ترې وتښتول، چرګه حيرانه دريانه ودريدله، په بې وسي يې پورته د کارګه په لوري کتل.

کوتره په کارګه پسې والوتله له ليرې يې پرې چيغې نارې جوړې کړې:

– هلئ غل دی هلئ غل دی.

نور مرغان هم په کارګه پسې والوتل، کارګه وارخطا شو، خواړه ترې ولويدل او دی وتښتيد.

کوترې ټول خواړه بېرته چرګې ته راوړل، چرګې چې د کوترې اوچت پروازونه وليدل ځان سره يې وويل، چې زه به هم خامخا الوتل زده کړم.

چرګه هم ملا چرګک ته لاړه. ورته و يې ويل: ما ته هم دکوترې غوندې الوتل رازده کړه. ملا چرګک درسونه ورته پيل کړل. څو اوونۍ يې ورسره خواري وکړه، خو چې هر څه يې وکړل، چرګې الوتل زده نه کړل. چرګې هم خپله ټول وس وکړ، خو چې څومره يې هڅه وکړه، له دوو ګزو پورته نه شوه الوتلی. ملا چرګک ورته وويل، چې ته ډېره لټه يې، له تا نه څه شی نه جوړېږي، زه نور درس نه شم درکولی.

چرګه ناهيلې شوه، ټوله ورځ يې سر ټيټ نيولی و، دې خوا ها خوا ګرځېده، چورتونه يې وهل، چې زه ولې لټه يم؟

ماښام نژدې و، چې کوتره راغله. چرګه يې وليده، چې خپه ناسته ده. کوتره د هغې څنګ ته کېناسته، پوښتنه يې وکړه: ولې خپه يې؟

چرګې خپله کيسه ورته تېره کړه.

کوترې وويل: دا د خپګان خبره نه ده. ته پوهېږې خدای ټول مخلوقات يو رنګ نه دي پيدا کړي. څوک الوتلی شي، د چا لامبو زده وي، بل به يو کمال لري. کېدای شي چې ته به يې د بل کار لپاره پيدا کړې يې.

چرګې د کوترې سترګو ته وکتل، پوښتنه يې وکړه: څنګه؟

کوترې وويل: نه پوهېږم خو خامخا به يو کمال لري.

چرګې لږه شېبه فکر وکړ، بيا يې له کوترې پوښتنه وکړه: ته په ورځ کې څو دانې هګۍ اچوې؟

کوترې وويل: په ورځ کې څه چې زه يې په اوونۍ کې هم نه اچوم. په مياشت کې ايله دوه دانې هګۍ واچوم.

چرګې وويل: زه خو يې هره ورځ اچوم.

دې وخت کې يو سړی د دوی له څنګه تېرېده او د دوی خبرې يې واورېدې. سړی په لرګيو پسې ځنګل ته تللی و. د هغه هګۍ ډېرې خوښېدې. کله کله به

يې په ځنګله کې يوه دانه هګۍ ومونده، هګۍ به يې په غوړيو کې سره کړه او په خوند به يې وخوړه. سړي چرګې ته وويل: راځه چې زه و ته سره دوستي وکړو. ته به هره ورځ راته يوه يوه هګۍ اچوې، زه به غنم، جوار، هر څه چې ستا خوښه وي، هغه به درکړم. په نس به دې مړه وساتم، ګرمه نرمه کوټه به درته جوړه کړم، د نورو مرغانو او حيواناتو له ازاره به دې خوندي کړم.

چرګې د کوترې خوا ته وکتل. کوترې ورته وويل: ويې منه. زه فکر کوم، چې خدای به ته د همدې لپاره پيدا کړې يې، چې انسانانو ته هګۍ واچوې.

چرګه له سړي سره د هغه کور ته لاړه او تر ننه پورې چرګې په کورونو يا په فارمونو کې ژوند کوي.

# بې ځایه غرور

په پخوا زمانو کې غوایان هم لکه نور صحرایي حیوانات په ځنګلونو کې اوسېدل، د اوس غوندې به انسانانو یوې نه وربانديې کوله او ازاد به ګرځېدل. یوه ورځ یو غویی د سیل او ساعتیري لپاره له ځنګله څخه راووت او یوه نږدې کلي ته ولاړ چې یو خر په مخه ورغی. خر ډېر ډنګر او په بد کې حال و. غوایي د خره دې حالت حیران کړ او پوښتنه یې ترې وکړه:
ولې داسې ډنګر او په بد حال کې یې؟ د خره له خولې یو سوړ اسویلی وایست او ویې ویل: هی هی مه مې پوښته، که ما وپوښتې نو و به وتښتې، زما له حاله دې خدای مه خبروه. غویی نور هم حیران شو، بیا یې ځنې وپوښتل: زړه مې ډېر درباندې وسوځېده ،څه خبره ده ولې داسې یې؟ خره په خواشینۍ ورته وویل: انسان پر ما باندې هره ورځ بارونه وړي، په کومه ورځ چې بار نه وي، نو له بل خره سره مې تړي او ځمکه راباندې یوې کوي.
غوایي چې د خره خبرې واورېدې هک حیران شو. له ځانه سره یې وویل چې دا انسان څومره زور ور دی چې پر دې خره خوارکي دومره ظلم کوي. خره ته یې مخ ور واړاوه او ورته ویې ویل: دا انسان نو څه شی دی، ته درځه ما ته یې را وښیه چې زه ورسره جوړ شم. له دې خبرې سره سم خر او غویی دواړه د کلي پر لوري روان شول.
کلي ته چې وره سېدل نو یو بزګر یې ولید چې په کرونده کې کارکاوه. خره غوایي ته وویل: دغه دی انسان چې په موږ دومره زیات کارونه کوي. غوایي چې انسان ولید په غرور سره یې خره ته وویل: تاسې خرونه څومره بې غیرته یاست چې دا کمزوری انسان پر تاسې ظلم کوي او تاسې یې امرونه منئ. غویی بزګر ته ورغی او ورته ویې ویل: ته ولې پر دغو خرو خوارانو دومره ظلم کوې او دراندە بارونه پرې وړې؟ بزګر ورته وویل: بس نو دا د دنیا ژوند دی، خر خو خدای (ج) د همدغو کارونو لپاره پیدا کړی دی. دا خبره سمه ده چې موږ پر خرو بارونه وړو خو دوی ته واښه او خواړه هم ورکوو او ښه یې ساتو.

غوايي د بزګر خبرې نه منلې او په قهر قهر يې ورته کتل. وروسته يې ورته وويل : ته چې ځان ته دومره زورور وايې نو راشه له ماسره زور معلوم کړه. بزګر وخندل او ويې ويل: زه انسان يم او ته حيوان، زما اوستا زور خداى نه دى سره برابر کړى، زور ازمايلو ته هيڅ اړتيا نشته. غوايي دبزګر خبره نه منله ، په غوصه يې وويل: نه نه، راشه له ماسره زور وازمايه ، که ته زوره ور شوې زه هم ستا تابع کېږم او که زه زورور شوم، نو خر به ازادوي او کار به نه پرې کوې.

لنډه دا چې غوايي د بزګر ځواب ته ونه کتل او خپل غټ غټ او تېره ښکرونه يې بزګر ته اړم کړل، خو بزګر له عقل او پوهې څخه کار واخيست. يوه لوړ ځاى ته وخوت چې هلته د غوايي ښکرونه نه شواى وررسېداى. له هغه ځايه يې په خپل ببل غويي څو واره پر ښکرونو وواهه. لږ شيبه وروسته غوايي پر ځمکه څملاست او بزګر ته يې وويل چې بس ده زه نوره جګړه نه کوم.

له دې سره سم بزګر هم پړى يا رسۍ را واخيسته د غوايي تر ښکرونو يې را تاو کړه او ټينګ يې وتاړه چې له هغې ورځې راهيسي غويي د انسان تابع شو او تر اوسه يې تابع دى.

۲۳/ ٦/ ١٣٧٧

څارندوى مېنه، کابل

# سپی او موټر

په پخوا زمانو کې یوه ورځ سپی ،وزه او خر په لاره سره ملګري شول ، تله تله تله ،ډیر مزل یې وکړ . ستړي شول دلارې پر سر یې دمه جوړه کړه ، یوموټر له لیرې را ښکاره شو چې ددوی په خوا را روان دی ، دری واړه خوشحاله شول .

سپی،وزه اوخر په موټر کې سپاره شول ، موټر چې یوڅه لاره ووهله ، وزې له موټر څخه ټوپ کړ بې له دې چې دموټر کرایه ورکړي پخپله مخه ولاړه .

ډریور پسې نارې کړې چې کرایه راکړه خو وزه وتښتیده.

موټر چې څه لاره نوره ووهله ، خر هم له موټره پلی شو بې له کوم جنجاله یې کرایه ورکړه او بې غمه دکلي په لوري روان شو.

وروستی کلی د سپي کلی و . سپی هم له موټره کوز شو ، خپله کرایه یې ورکړه او روان شو.خو موټر چلوونکي پسې نارې کړې ورته ویې ویل :

- څنګه داسې بې غمه روان شوې،کرایه راکړه.

سپی حیران شو ویې پوښتل :

- ما خو دا اوس خپله کرایه درکړه ،دوه ځله کرایه غواړې که څه؟

موټرچلوونکې په غوصه وویل :

- وزه دې ونه لیده چې بې کرایي ولاړه ، دهغې کرایه راکړه.

سپي وویل :

- نو پر ماېې څه ، د وزې کرایه زه ولې درکړم؟

چلوونکي وویل :

- وزه ستا دلارې ملګرې وه ، بې کرایې وتبنتیده ، کرایه به یې حتماً ته راکوې.

موټر چلوونکي کرایه غوښتله سپي نه ورکوله ، ددواړو ترمنځ لوی جنجال جوړ شو .

اخیر دواړه په لاره یوه روان سپین ږیري ته ورغلل ، ټوله کیسه یې ورته وکړه . سپین ږیري وویل :

- څرنګه چې وزه له سپي سره یوځای موټر ته پورته شوې وه او د سپي د لارې ملګرې وه نو سپی باید دوزې کرایه هم ورکړي.

سپی مجبور شو په نه زړه یې د وزې کرایه ورکړه.

اوس چې موټر په لاره تیریږي ، وزه ترې منډې وهي او ځان خلاصوي هسې نه چې پخوانۍ پاتې کرایه ترې واخلي.

که مو پام کړی وي خر تل په سرک ولاړ وي که مو ټر هر ځومره هارنونه کوي خر له لارې نه ایسته کیږي .

خر له ځانه سره وايي ما خو خپله کرایه ورکړې ده هر ځای مې چې زړه وي دریږم د وزې غوندې په غلا ژوند نه تیروم .

او سپی! سپی چې په لاره تیریدونکی موټر ووینې له ډیر لیرې ځایه ورته را منډه کړي او تر ډیر لیرې واټن پورې په موټر پسې ځغلي او ورته غاپي .

سپی په ورکړې کرایه پښیمانه بریښي او له موټر څخه هغه پیسې غواړي چې له ده څخه یې د وزې د کرایې په نامه اخیستې دي .

۱۲ / ۴/ ۱۳۷۹

پکتیا– زرمت

# تور زړه

د ځنګله پاچا زمري د خپل حکومت کارونه د ځنګله دنورو حیواناتو ترمنځ وېشلي و ، هر یوه ته یې د هغه له لیاقت سره سم کار ور سپارلی و ، ټول حیوانات له خپلو ورسپارل شویو کارونو څخه راضی وو او هریوه خپل کار کاوه. په دې منځ کې یوازې ګیدړه ناراضه وه ، دې به خپل کارونه پر خپل وخت نه کول ،هسې بهانې به یې کولې او له نورو حیواناتو به یې هم شکایت کاوه، لنډه داچې خپل کارونه به ترې پاتې و.

ګیدړې به تل زمري ته د کارګه (کارغه) غیبت کاوه او ویل به یې: داتورکارګه کار نه کوي، دخزانې پیسې یې ټولې په خپله ولګولې. زمري به د ګیدړې خبرو ته ډېرغوږ نه نیو. زمري لیدل چې له کومې ورځې راهیسې کارګه د خزانې آمر ټاکل شوی و نو دخزانې کارونه ښه شوي و ، خو دګیدړې په کارګه کینه راتله. کله چې به نوره پلمه پاتې نه شوه نو زمري ته به یې ویل: د کارګه توره او بدرنګه څېره ګوره ، دی به په دې توره څېره ټول کارونه خراب کړی.

شپې او ورځې تېرې شوې، دګیدړې مکاریو او ټګیو د ځنګله پر پاچا زمري هم اغیزه وکړه او دا یې د خزانې مشره وټاکله. ګیدړې له خدایه داسې غوښتل ، په غوړه مالیو او نرمو خبرو یې د زمري پام بلې خواته واړاوه او په خپله یې د بیت المال په پیسو مزې چړچې شروع کړې چې په لږ وخت کې یې خزانه تمامه کړه.

یوه ورځ زمری خزانې ته ورغی، ګوري چې په خزانه کې هیڅ هم نه دي پاتې، له ګیدړې یې د خزانې د خالي کېدو علت وپوښت. ګیدړې بیا هم د پاکۍ او صداقت خبرې کولې او غو ښتل یې چې زمری بیا غلط کړي. زمري د ځنګله ټول حیوانات را وغوښتل او د ټولو په مخ کې یې ګیدړې ته وویل: په یاد دې دي چې تل به دې ځان سپین ښوده او د کارګه شکایت به دې کاوه، نور زه له هغه چا کرکه لرم چې څېره یې سپینه خو زړه یې تور وي. له دې سره سم زمري ګیدړې ته د ځنګله له قانون سره سمه سزا ورکړه او کارګه ته یې بیرته د خزانې مشر وټاکه.